مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدمعصوم هوتک

۲۰۲۱/۰۸/۰۳

# جګړه نوره نه غواړو

ريښه ئې افغاني نه ده، چي نوره جګړه غواړي
شېوه ئې انساني نه ده، چي نوره جګړه غواړي

په لوي لاس چي وداني ورانوي د وطنوالو
پلمه ئې عقلاني نه ده، چي نوره جګړه غواړي

لېوه دئ، ځناور دئ، مرېده ئې دي په وينو
ځېره ئې د سړي نه ده، چي نوره جګړه غواړي

چي کډو ته اړ باسي زموږ په پټ پټي مېرمني
شمله ئې پښتني نه ده، چي نوره جګړه غواړي

چي تخت ته پورته کېږي پر زينو د ککريو
دعوه ئې مدني نه ده، چي نوره جګړه غواړي

چي زړه ئې نه خوږېږي زما پر خوارو بورو وراړو
نطفه ئې وطني نه ده، چي نوره جګړه غواړي

چي پاته ئې تر شا وي زخمي زړونه مات هډونه
حمله ئې د زمري نه ده، چي نوره جګړه غواړي

بل څه نه دئ شهوت د واکمنۍ پر غالب سوی
دوسيه ئې قانوني نه ده، چي نوره جګړه غواړي

آشاوا, کانادا
25جولای 2021ع



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ